**د حزب التحرير**
**ولايه افغانستان**
**مطبوعاتي دفتر**

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهارشنبه ۰۱ ذوالحجه ۱۴۳۸هـ　　۲۰۱۷-۰۸-۲۳م　　گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۸/۰۸


**مطبوعاتي اعلاميه**

## د امريکا نوې ستراتيژي؛ په افغانستان او جنوبي آسيا کې د جګړې او کړکېچ دوام

ټرمپ له اتو مياشتو سختو کورنيو اختلافاتو وروسته د افغانستان په هکله د امريکا نوې ستراتيژي اعلان کړه.

**د حزب التحرير ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر** د امريکا په نوې ستراتيژۍ کې د هغې له پخوانۍ ستراتيژۍ سره کوم ځانګړی توپير نهويني. ځکه دا ځل امريکا په ډاګه د افغانستان ستراتيژي له جنوبي آسيا سره د امريکا د ستراتيژۍ په رڼا کې اعلان کړه او دا رسماً په دې دلالت کوي چې امريکا د افغانستان له بې ساري جيوپولټيک موقعيت څخه په سيمه کې د خپلو ستراتيژيکو او استعماري موخو د تعقيب لپاره د پوځي اډې او جنګي پروژې په توګه کار اخلي. همداراز ټرمپ په افغانستان کې د امنيت راوستلو لپاره د هند د رول پر پياوړي کېدو ټينګار وکړ، چې دا خپله په افغانستان کې د امريکا، هند، پاکستان، ايران، چين او روسيې تر منځ د نيابتي جګړې د لاګرمېدو خبرداری ورکوي.

ټرمپ د بوش او اوباما د دروغو پر خلاف ښکاره وويل چې زموږ وسله وال ځواکونه به د نورو د ملت جوړونې لپاره نه کارول کيږي، بلکې دا خپله د افغانانو کار دی چې څنګه له ګډ دښمن سره جګړه وکړي، خپل اقتصاد پياوړی کړي او خپل راتلونکی جوړ کړي. مګر تر دې وړاندې امريکا افغانستان له «ترورېزم» څخه دخلاصون، ملت جوړونې، دولت جوړونې، بشري حقونو او غوره حکومتولۍ تر پلمو لاندې اشغال کړ.

**حزب التحرير ولايه افغانستان** د امريکا او ناټو د دغو غولوونکو شعارونو له حقيقت څخه په وار-وار خپل ولس ته خبرداری ورکړی و او دا دی اوس خلکو د دې عصر د دجال «ټرامپ» له خولې په خپلو غوږونو واورېدل، چې هغوی افغانستان ته زموږ د هوساينې، ملت جوړونې، ډموکراسۍ او بشري حقونو لپاره نه، بلکې په خپلو ناوړه استعماري موخو او ګټو پسې راغلي او لاسپوڅی افغان حکومت او مزدور چارواکي يې يوازې د ګټو د تامين موقتي وسايل دي.

**د حزب التحرير-ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**